# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهار شنبه ۴ سلواغه ۱۴۰۲ هـ ش | ۱۲ رجب المرجب ۱۴٤٥ هـ ق | ۲٤ جنوري ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۵۵)


## د سترې محکمې قضائي او نظامي معاون صاحبانو د ایران له یوه لوړ پوړي پلاوي سره وکتل

د شنبې په ورځ (د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په اتمه نېټه) د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې قضائي معاون محترم شیخ محمدقاسم (راسخ) صاحب او د نظامي محاکمو معاون محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، په نړیوالو چاروکې د ایران د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې د معاون او د قضائیه قوې د عالي شورا د غړي محترم کاظم غریب آبادي په مشرۍ لوړ رتبه پلاوي سره د سترې محکمې د غونډو په تالارکې وکتل.

په دې ناسته کې د سترې محکمې پر قضائي او نظامي معاون صاحبانو سربېره د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید (سعید)، د سترې محکمې د مقام دفتر عمومي رئیس محترم مولوي عبدالوکیل (حقاني)، د نظامي منسوبینو دېوان عضو مفتي محترم مولوي عبدالباقي (حقاني) او نورو مسؤولینو ګډون درلود. غونډه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې قضائي معاون محترم شیخ محمدقاسم (راسخ) صاحب د ایران اسلامي جمهوریت څخه راغلي پلاوي ته هرکلی ووایه زیاته یې کړه، د افغانستان اسلامي امارت له ټولو هیوادونو په ځانګړې توګه ګاونډیو اسلامي هیوادونو سره د ښو او د متقابل احترام پر اساس ولاړو اړیکو غوښتونکی دی.

دغه راز محترم شیخ محمدقاسم (راسخ) صاحب ایراني پلاوي ته د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو د عمومي تشکیل او پر محاکمو کې د مراجعینو دوسیو ته د رسیدو بهیر په تړاو معلومات ورکړل وویل، د افغانستان اسلامي امارت محاکم کاملاً خپلواک او د حنفي فقهې په اساس د مراجعینو دوسیو ته رسېدنه کوي.

پر دې سربېره په ناسته کې د دواړو هیوادونو د اړیکو پر تقویه، له ایران څخه افغانستان ته د افغان زندانیانو پر انتقال، په ایران کې له افغانانو په ځانګړې توګه افغان زندانیانو سره د ایراني چارواکو پر ښه چلند او نورو مهمو موضوعاتو تفصیلي خبرې وشوې.

د ایران د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې معاون او د قضائیه قوې د عالي شورا غړي محترم کاظم غریب آبادي د افغانستان اسلامي امارت د قضائیه قوې له محترمو معاون صاحبانو مننه وکړه چې دوی ته یې د لیدنې لپاره وخت ورکړ وویل، ایران او افغانستان اسلامي او ګاونډي هیوادونه دي او دواړه هیوادونه ډېر مشترکات لري. نوموړي څرګنده کړه چې هیواد یې په بېلا بېلو برخو کې د افغانستان له اسلامي امارت سره د دوه اړخیزو اړیکو د تقویې غوښتونکی دی.

یاده غونډه په ځینو نورو مهمو مواردو تر تفصیلي خبرو وروسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۴**
**نېټه: ۲ /۶/۱۴۴۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: هغه وثائق چې قضائي حکم ته ضرورت لري او هغه وثائق چې قضائي حکم ته ضرورت نه لري، همدارنګه په دې اړه چې آیا په اوسني شرائطو کې د تلیفون او واټساپ وغیره له لارې یو څوک کولای شي چې یو چا ته د خپلې دعوې وکالت ورکړي او که نه؟ که وکالت ورکولای شي په کوم ترتیب او کومو شرائطو یې ورکولای شي؟ یاده موضوع د یولړ اصولي مراحلو د طې څخه وروسته د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مؤرخ ۱۷/ربیع الثاني/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۰/ عقرب/۱۴۰۲هـ ش ته وړاندې شوه په اړه یې د تصویب نمبر (۹) د لومړۍ پریکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((وثائق په دوه قسمه دي: ۱ ـ رسمي اسناد.
۲ ـ عرفي اسناد.

رسمي اسناد هغه دي چې په محکمه کې د مؤظفو مامورینو له خوا په قانوني طریقه جوړ شوي وي د هغوی په امضاء، مُهر او تصدیق رسېدلي وي، دغه ډول اسناد د ډېر احتیاط او حفظ لپاره په محکمه کې لیکل کیږي لکه: (د ابراء وثیقه، د وصیت وثیقه، د ضمانت وثیقه، د صلحې وثیقه، د اقرار وثیقه، د نکاح وثیقه، د طلاق وثیقه وغیره نور وثائق) دغه ډول وثائق په یوه کتاب کې ترتیبیږي او د جمع کېدو څخه وروسته په دېوان کې ساتل کیږي، دا په دې معنی نه ده چې د یادو وثائقو د لیکلو لپاره د قاضي حکم ضروري دی بلکه د محفوظ ساتلو لپاره په محکمه کې ترتیبیږي چې دغه ډول وثائقو ته رسمي اسناد ویل کیږي.

همدارنګه د فقیه علماء کرامو لخوا د وثائقو لیکل جائز دي او قاضي نشي کولای چې عادل علماء کرام د دغه ډول وثائقو د ترتیب څخه منع کړي چې دغه ډول اسنادو ته عرفي اسناد ویل کیږي.

نو په دې اساس هغه افغانان چې د افغانستان څخه بهر په نورو هیوادونو کې ژوند کوي او غواړي چې په افغانستان کې یوه شخص ته د یوې مشخصې دعوې پر مخ بیولو لپاره وکالت ورکړي هغه به لومړۍ په هغه هیواد کې چې دی استوګن دی، د موجوده وخت خپل تصویر، اصل تذکره، اصل پاسپورټ او په میشت هیواد کې د استوګنې د اثبات لپاره د هغه هیواد اقامه، مهاجر کارت وغیره په درلودلو سره به د افغانستان سفارت یا قونسلګرۍ ته مراجعه کوي او په لیکلي ډول به اقرار کوي چې ما د فلان موضوع په هکله په افغانستان کې فلان بن فلان وکیل ټاکلی دی او د خپل موجوده وخت تصویر، د تذکرې، پاسپورټ او په میشت هیواد کې د استوګنې د اثبات لپاره د هغه هیواد د اقامې، مهاجر کارت وغیره یوه یوه کاپي او د ویډیو کال لپاره د خپل مبایل شماره به د افغانستان سفارت یا قونسلګرۍ ته سپاري.

په خارج کې د افغانستان سفارت یا قونسلګري به د یاد مؤکل لیکلی اقرار او اړونده اسناد د افغانستان اسلامي امارت خارجه وزارت ته ایمیل کړي او په محفوظ او مصؤن ډول به یې د پوسته خانې له طریقه هم خارجه وزارت ته راواستوي.

د افغانستان اسلامي امارت خارجه وزارت به یاد اسناد په کابل او کندهار کې د خارجي وکالت خطونو جوړولو ځانګړې محکمې ته استوي.

کله چې را استول شوي اسناد محکمې ته ورسیږي نو په دغه وخت کې به هغه شخص چې وکیل ټاکل شوی د دوه نفره داسې شاهدانو سره یو ځای چې په خارج کې میشت مؤکل په رنګ او بڼ سره پیژني، یادې محکمې ته به مراجعه وکړي د محکمې مؤظفین به د وکیل او مؤکل تر مینځ تصویري تماس (ویډیو کال) ترتیب کړي، کله چې د معرفت شاهدانو تائید کړه چې دغه شخص چې په تصویري تماس کې خبرې کوي، هغه شخص دی چې په را استول شویو اسنادو کې یې دغه وکیل ته وکالت ورکړی دی، تر هغه وروسته به محکمه وکالت خط ورته ترتیب کړي دغه وکالت خط د اسلامي امارت په محاکمو کې معتبر دی.

پورته تحریر شوی ترتیب دې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ته واستول شي تر څو په نورو هیوادونو کې د افغانستان سفارتونو او قونسلګریو ته یې په متحدالمآل شکل واستوي.

همدارنګه د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست دې یاده موضوع ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د خارجي وکالت خطونو د ترتیب په اړه د سترې محکمې د عالي شورا هدایت د ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

**په اجتهاد کې حکمت:**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اجتهاد کې حکمت او دا چې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته یې د اجتهاد په برخه کې اجازه ورکړې، دا ده چې د اسلام دین د شریعتونو وروستی شریعت دی او د قیامت تر ورځې د ټولو خلکو لپاره همدا یو ( برحقه) دین دی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې دوی ته د مسائلو د استنباط طریقه وروښايي او دوی ته به یې د ادله وو څخه د احکامو د را ایستلو برخه کې تمرین ورکاوه، ځکه د دین نصوص او قواعد په تفصیلونو او جزئیاتو باندې مشتمل نه دي، ځکه پېښې تر یوې معلومې زمانې پورې نه محدودېږي، ځکه په هره زمانه کې د وخت اوسېدونکو ته داسې واقعات پېښېږي چې مخکنې خلکو بیخي نه پېژندل او نه پرې پوهېدل. دا اړینه خبره واورئ، چې له روایاتو څخه دا څرګندېږي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په قضائي چاروکې ډېر ماهر وو او دا مهارت یې د پیغمبرۍ له وجه نه بلکې د یو حاکم په توګه وه، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شرعیت جوړونکی، قاضي او تنفیذونکی وو، نو له همدې امله د تشریع، تنفیذ او قضائي چارو یو جامع سمبالونکي په توګه یې اجراآت کول، د احکامو تشریع یې د پیغمبرۍ له وجه وه، نه د پاچاهۍ له امله چې په رحلت سره یې دا دنده پای ته ورسېده، مګر دا دوې نورې دندې چې د تنفیذ او قضاء مسؤولیتونه وه، چې بالعموم دا چارې یې په غاړه شوي وې، ځکه چې نبي علیه السلام څخه وروسته دا چارې خلفاء راشدینو د ټولنې د مصلحت په موخه پر مخ بېولې( چې تر اوسه دا چارې د حاکمانو تر غاړې دي).

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۸ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## محاکم فاریاب طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۳۰۰) دوسیه، به تعداد (۲۹۷) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۲۹۷) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم غزنی طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۶۸) دوسیه، به تعداد (۱۱۶) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۵۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۱۱۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۲۹) دوسیه، به تعداد (۱۲۰) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محاکم نظامی زون غور و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۲۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

محاکم غزنی طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۶۸) دوسیه، به تعداد (۱۱۶) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

## محاکم سرپل طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۰۲) دوسیه، به تعداد (۱۷۹) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سرپل، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۳/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۱) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سرپل به تعداد (۱۷۹) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بغلان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۳۹۷) دوسیه، به تعداد (۱۴۰) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۸/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۴۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۳۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۸) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۱۴۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۱۷۸) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۰۴) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې څخه ۲۸/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې) پورې د (۱۷۸) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۰۴) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۳۷) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۱) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۱۰۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۸) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۳۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۲۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۰۴) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۴۷۴) دوسیه، به تعداد (۷۱۰) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۸/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۵۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۶۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۹۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۱) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۷۱۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۳۵۶) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۹۹) وثیقې هم اجراء کړې دي

د خوست ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، اختصاصي محکمې، نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۳۵۶) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۹۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې (۱۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۷۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې (۱۷) دوسیه مکتوبي مستردې شوې، د (۳۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۹۹) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم تخار طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۶۵۷) دوسیه، به تعداد (۴۶۱) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۵۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۰۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۹۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۹۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۶۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۴۸) دوسیه، به تعداد (۱۵۳) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۷۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۸) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۵۳) وثایق نیز اجرا گردیده است.

## محاکم لغمان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۸۲) دوسیه، به تعداد (۱۴۸) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت لغمان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۱) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت لغمان به تعداد (۱۴۸) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د پنجشېر له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د قضائي پلټنې د عمومي رئیس په اجازه د محترم مولوي سیف الرحمن (ذاکر) په مشرۍ یوه تاکل شوي پلاوي چې مولوي عبدالوارث (سعید) او مولوي رحمان الدین (حقاني) په کې د غړیو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الثانیه میاشتې په ۱۸مه نېټه د پنجشېر ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د پنجشېر ولایت د مرافعه محکمې له محترم رئیس سره وکتل، ورپسې یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د پنجشیر ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس اړوند د ټولو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او نور معلومات یې له ځان سره ولیکل او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریکې کړې.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا تاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت د ټولو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، ښاري مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو ، وثایقو آمریت او حقوقو آمریت څخه په جلا ډول لیدنې وکړې.

نوموړي پلاوي د څارنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه ترسره کړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې ورته لازمې لارښوونې وشوې.

یاد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزو، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره ولیکلې او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د پنجشېر د مرافعه محکمې د ریاست له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ټول موارد یې په جلا جلا توګه ورسره شریک کړل.

د یاد سفر په دوام دغه پلاوي د ولسوالیو له مسؤولینو سره ناستې وکړې، د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړوند ستونزو د حل په اړه د هغوی نظرونه هم واورېدل شول.

د قضائي تفتیش د څارنې او پلټنې پلاوي یاد له لاسته راوړنو ډک نهه ورځنی سفر د ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الثانیه میاشتې په(۲۶) نېټه پای ته ورسېد.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ دایکندی از محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی پاتو آن ولایت دیدن نمود

به تاریخ ۱۹ /۶ /۱۴۴۵هـ ق محترم الحاج شیخ عبدالکریم (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت دایکندی با همراهی نمایندهٔ مقام ولایت و رؤسای ادارات دولتی از محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی پاتو آن ولایت دیدن نمود.

هدف از سفر رئیس محکمهٔ مرافعهٔ به محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی پاتو بررسی از امور قضائی و اداری محکمه و بازدید همراه مردم ولسوالی مربوطه بود.

رئیس مرافعه طی یک جلسه گفت، تمام مسؤولین مکلف اند وظایف خویش را مطابق شریعت اجرا نمایند، بخاطر حفظ دستاورد ها و تعمیم آن در ساحهٔ وظیفوی باید تلاش صورت گیرد، قضات باید نقش خویش را در این عرصه ایفاء نمایند.

موصوف افزود، قضات مکلف اند سرعت روند رسیدگی به قضایا را در مواعد معینه که در اصولنامه پیش بینی شده، رعایت نموده و با استفاده از صلاحیت های قانونی به تمام موارد اصحاب دعاوی رسیدگی جدی به عمل آورند؛ زیرا صلاحیت های قضائی محاکم معین بوده؛ اگر شکایتی مطرح می‌گردد ضرور نیست تا شاکی با تحمل سرگردانی و ضیاع وقت به منظور حصول حکم ریاست محکمهٔ مرافعه مراجعه نمایند؛ بلکه رئیس محکمهٔ ابتدائیه منحیث ممثل قوهٔ قضائیه در ولسوالی مربوطه به شکایات وارده در چهارچوب صلاحیت‌های قانونی شان رسیدگی نمایند.

رئیس محکمهٔ مرافعه گفت، تأمین روابط اصولی محکمهٔ ابتدائیه با ولسوال و سائر نهادهای امنیتی اهمیت بیشتر داشته و می‌تواند این روابط در حالیکه بر پایه احترام متقابل استوار باشد، فضای خوب کاری را به میان آورد.

موصوف علاوه نمود، نهاد های قضائی و امنیتی به مثابهٔ زنجیر واحد می‌باشند که هماهنگی میان محکمه، ولسوالی و نهاد های امنیتی زمینه های بهتر تأمین عدالت و قانونیت را میسر می‌سازند.

در ادامه رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه خطاب به مردم آن ولسوالی گفت که مردم باید مدافع نظام باشند و از نظام پیروی نمایند.

همچنان رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه در جریان این سفر از اجراآت و فیصله‌های حقوقی، جزائی، وثایق، کتاب حاضری منسوبین، کتاب وارده و صادره، کتاب ثبت اندراج دوسیه‌های حقوقی و جزائی محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی پاتو را ملاحظه نمود و در این موارد رهنمائی های لازم برای اعضای محترم قضائی داده شد.

رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه برای اعضای قضائی بیان نمود که اعضای قضائی باید به امور قضائی و اداری توجه جدی نمایند، تمام اجراآت خویش را مطابق شریعت، اصولنامه ها، قوانین، لوایح، متحدالمآل های ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه به پیش ببرند.

در ختم این دیدار رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه به رئیس محکمهٔ ابتدائیه پاتو هدایت داد، بخاطر تسریع و رسیدگی به قضایای وارده و عرایض عارضین، ترتیب به موقع راپور ها، ترتیب اثر به مکاتیب و استعلام های واصله، برخورد سالم با مراجعین و هماهنگی لازم بین ادارات محلی توجه جدی نمایند و در موقع رسیدگی به دوسیه‌جات استقلالیت قوهٔ قضائیه را در نظر بگیرند.

در ادامه رئیس محکمهٔ یاد شده از تشریف آوری رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه اظهار خرسندی نمود و سفر رئیس عمومی محکمه را در پیشبرد امورات قضائی و اداری محاکم تأثیر گزار دانست.

سرپرست مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## جلسهٔ معرفی قضات محکمهٔ اختصاصی زون بلخ دایر گردید

منسوبین قضائی ریاست محکمهٔ (اختصاصی) رسیدگی به قضایای غصب زمین های مرعی عامه، وقفی، امارتی و استرداد زمین های غصب شده زون بلخ که به اساس حکم شماره (۲۰) مؤرخ ۱۶ /۶ /۱۴۴۵هـ ق عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) محکمهٔ اختصاصی زون بلخ ایجاد و تقرر قضات محکمهٔ اختصاصی منظور گردیده طی یک جلسه معرفی شده اند. جلسهٔ معرفی قضات محکمهٔ اختصاصی زون بلخ به تاریخ ۱ /۷ /۱۴۴۵هـ ق به اشتراک محترم الحاج مولوی نورالهادی (ابو ادریس) معاون مقام ولایت بلخ، محترم شیخ محمد گلاب (فاروقی) رئیس محکمه مرافعه، محترم مولوی محمد قاسم (حکمت) رئیس محکمهٔ اختصاصی رسیدگی به قضایای غصب زمین های مرعی عامه، وقفی، امارتی و استرداد زمین های غصب شده زون بلخ، منسوبین قضائی محکمهٔ متذکره، رئیس تحریرات محکمهٔ مرافعه، رئیس استخبارات، رئیس ریاست زراعت، آبیاری و مالداری، رئیس محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی نهرشاهی، رئیس شاروالی مزارشریف، رئیس اقوام و قبایل، معاون شاروالی، ولسوال نهرشاهی، آمر حوزهٔ هفتم و مدیر عمومی املاک ریاست زراعت دایر گردید.

جلسه با تلاوت چند آیات از قرآن عظیم الشان آغاز گردید؛ سپس محترم الحاج مولوی نورالهادی (ابو ادریس) معاون مقام ولایت بلخ در رابطه به موضوع غصب املاک های امارتی مرعی، عامه و وقفی زون بلخ توسط غاصبان و زورمندان صحبت همه جانبه نمود، ایجاد محکمهٔ اختصاصی زون بلخ یک گام نیک و مؤثر در استرداد ملکیت های غصب شدهٔ امارتی وقفی و مرعی، عامه دانست و موفقیت منسوبین قضائی و اداری محکمهٔ مذکور در پیشبرد وظیفه محوله از خداوند (جل جلاله) استدعا نمود.

بعداً محترم شیخ محمدگلاب (فاروقی) رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت بلخ قضات محترم محکمهٔ مذکور را که به اساس فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) و لزوم دید مقام عالی ستره محکمه مقرر گردیده‌اند، به حاضرین محفل معرفی نمودند، وعده سپرد که ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت بلخ در پیشبرد وظایف محوله با منسوبین محترم محکمهٔ اختصاصی مطابق احکام شریعت و اصول همکاری می‌نماید.

در ادامه این جلسه محترم مولوی محمد قاسم (حکمت) رئیس محکمهٔ اختصاصی از اعتماد مقام عالی ستره محکمه و مقام عالی امارت اسلامی افغانستان اظهار سپاس نمود، وعده سپرد که وظیفه محوله را مطابق احکام شریعت با کمال صداقت انجام میدهم.

در پایان جلسه رئیس استخبارت ولایت بلخ طی صحبت بیان داشت که در راستای رسیدگی به قضایای غصب املاک امارتی ریاست استخبارت ولایت بلخ، از هر نوع همکاری شرعی، اصولی دریغ نورزیده و با محکمهٔ مذکور هماهنگی و همکاری می‌نماید.

جلسه با دعاء محترم شیخ محمد گلاب (فاروقی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه خاتمه یافت و منسوبین محکمهٔ اختصاصی به کار خود آغاز نمودند.

## دکندهار او هرات زونونو لپاره د اختصاصي محاکمو غړي معرفي شول

د دوشنبې په ورځ (۳ /رجب المرجب/ ۱۴۴۵هـ ق) نېټه د هرات او کندهار زونونو لپاره د وقفي او امارتي ځمکو د غصب څخه د مخنیوي کمېسیون (اختصاصي محاکمو) قضائي او اداري غړي د جنوب غرب زون د تمیز د عالي مقام عمومي رئیس او د دېوانونو د رئیسانو په شتون کې د یوې غونډې په ترځ کې معرفي شول.

د یادو اختصاصي محاکمو تشکیل د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له لوري د کارونو د پرمختګ او بهبود په موخه منظور شوی او یاد محاکم څلور تنه قضائي غړي او اداري تشکیل لري. د یادونې وړ ده چې یاد محاکم به خپلې چارې رسماً د شنبې په ورځ ۸/ رجب المرجب ۱۴۴۵هـ ق نېټه پیل کړي.

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس د پروان او کاپیسا د والي صاحبانو په ګډون له ټولو ولایتي مسؤولینو سره وکتل

د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدایت د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) صاحب ولایاتو ته د سفرونو په دوام د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الثانیه میاشتې په ۲۷مه او ۲۸مه نېټه دا ځل پروان او کاپیسا ولایتونو ته سفر وکړ.

یادو ولایتونو ته د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس د سفر عمده موخه د والي صاحبانو په ګډون له ټولو ولایتي مسؤولینو سره د همغږۍ د ناستو ترسره کول او د ولایتي ادارو د مسؤولینو ترمنځ د همغږۍ د لا تقویې په موخه د یوه طرزالعمل جوړول دي.

د سترې محکمې د جزا دېوان رئیس یادو ولایتونو ته د سفر پر مهال د والي صاحبانو په ګډون له ټولو ولایتي اداري مسؤولینو سره ناستې ترسره کړې.

په دې ناستو کې د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) صاحب د عدالت د تأمین، دادمن امنیت، له مظلوم سره همکارۍ او د هغه فریاد اورېدو، د فساد مخنیوي او د ولایتي ادارو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ پر لارو چارو خبرې وکړې وویل، د عدالت تأمینول د اسلامي نظام مهمه وجیبه او ځانګړتیا ده.

محترم مفتي عتیق الله (درویش) زیاته کړه، د اسلامي نظام تر چتر لاندې د ټولو ادارو مسؤولین باید د اړتیا پر مهال له یو بل سره پوره همکاري وکړي، د دوی ترمنځ باید قوي همغږي موجوده وي ترڅو دښمن په هېڅ صورت د جرم ترسره کولو فرصت پیدا نه کړي.

دغه راز غونډې ته د والي صاحبانو په ګډون ولایتي اداري مسؤولینو خبرې وکړې او د همغږۍ تقویه یې لازمي وګڼله، د سترې محکمې د جزا دېوان له عمومي رئیس یې مننه وکړه چې د همغږۍ د تقویې په موخه یې دغه ولایتونو ته سفر وکړ.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۵
### نېټه: ۴ /۶/۱۴۴۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د سترې محکمې د محترم عالي مقام د هدایت په اساس د مرکزي تمیز د جزاء دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله «درویش» صاحب او د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست معاون محترم حافظ مولوي عبدالولي صاحب د بندیانو د سرنوشت معلومولو لپاره تعین شوي وو تر څو د مرکزي محبس له منسوبینو سره غونډه جوړه کړي او یو طرزالعمل ترتیب کړي، تاکل شوي هیئت د یاد هدایت مطابق په (۱۴) څوارلس مادو او (۹) نه صفحو مشتمل طرزالعمل ترتیب کړی وو او یاد طرزالعمل د سترې محکمې د مقام د دفتر ریاست د مکتوب نمبر (۲۰۹) مؤرخ ۱۴۴۴/۷/۱۷هـ ق په توسط د مشرتابه محترم عالي مقام ته د توشیح لپاره وړاندې شوی وو په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم شمیره (۲۹۲۶) مورخ ۱۴۴۴/۸/۱۸هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۱۲/۲۰هـ ش په اساس داسې هدایت کړی دی:

((د بندیانو کړنلاره د ځینو اړینو تعدیلاتو سره سم په پنځلس مادو کې منظور ده، تعدیل شوې کړنلاره ددې مکتوب سره مل درولېږل شوه.))

بناءً د بندیانو کړنلاره چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائید شوې ددې متحدالمآل مل په (۶) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۶
### نېټه: ۱۲ /۶/۱۴۴۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: له رسنیو او بهرنیو ادارو سره د قضائیه قوې اړوند اطلاعاتو او معلوماتو شریکولو طرزالعمل چې د سترې محکمې د عالي شورا د مجلس مؤرخ ۲۸/صفر المظفر/۱۴۴۵هـ ق د هدایت مطابق د سترې محکمې د عالي شورا محترمو اعضاوو ته استول شوی وو چې په اړه یې د سترې محکمې د عالي د محترمو اعضاوو نظریات د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مؤرخ ۲۴/ربیع الثاني/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۷/عقرب/۱۴۰۲هـ ش ته وړاندې شوه په اړه یې د تصویب نمبر (۱۰) مورخ ۲۴/ربیع الثاني/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۷/عقرب/۱۴۰۲هـ ش د شپږمې پرېکړې په اساس د سترې محکمې عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((له رسنیو او بهرنیو ادارو سره د قضائیه قوې اړوند اطلاعاتو او معلوماتو شریکولو طرزالعمل دې د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست ته واستول شي یاد ریاست دې ... ملاحظات په طرزالعمل کې ځای پر ځای کړي تر هغه وروسته دې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستول شي.))

د سترې محکمې د عالي شورا د پورته تحریر شوي هدایت مطابق، د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د یاد طرزالعمل د ملاحظاتو د ځای پر ځای کولو څخه وروسته د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست ته را استولی دی.

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا د پورته تحریر شوی هدایت مطابق (له رسنیو او بهرنیو ادارو سره د قضائیه قوې اړوند اطلاعاتو او معلوماتو شریکولو طرزالعمل) د اصلاحاتو څخه وروسته ددې متحدالمآل مل په (۷) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳